د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**ګڼه: 465**

(25 سلواغه - 3 کب 1403 هـ ش)

## د ډونالډ ټرمپ بهرنۍ پالیسي او په نړیوال نظام کې یې د متحده ایالاتو پر رول اغېزې

---



دا نشریه د افغانستان او سیمې د مهمو سیاسي، امنیتي، اقتصادي او ټولنیزو پېښو د تحلیل اوونیزه خپرونه ده چې د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز له لوري په پښتو، دري، انګلیسي او عربي ژبو چمتو کېږي او خپرېږي.

# په دې ګڼه کې لولئ:


- د ډونالډ ټرمپ بهرنۍ پالیسي او په نړیوال نظام کې یې د متحده ایالاتو پر رول اغېزې ................ 3
- د مونرو دوکتورینو ته بیرته ستنېدل ........................................................... 3
- د امریکا اوسنۍ دریځ او وسایل یې ........................................................... 5
- پر نړیوال نظام د ټرمپ د پالیسیو او پرېکړو اغېزې ............................................... 5
- د موخې پرځای کړنلاره بدلول ................................................................. 6
- پایله ........................................................................................ 7
- وړاندیزونه .................................................................................. 8


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

## د ډونالډ ټرمپ بهرنۍ پالیسي او په نړیوال نظام کې یې د متحده ایالاتو پر رول اغېزې

**سریزه**

د امریکا د متحده ایالاتو ولسمشر ډونالډ ټرمپ، چې خپله لومړۍ دوره یې د هېواد په بهرني سیاست کې د غیر معمولي پالیسیو په پلي کولو کې تېره کړه، د یوې مودې وقفې وروسته بیا ټاکنې وګټلې، کماله هاریس(خپل انتخاباتي رقیب) ته یې ماتې ورکړه او د متحده ایالاتو ۴۷م ولسمشر شو. ټرمپ د پالیسیو پلي کولو او مختلفو طریقو غوره کولو لپاره پېژندل کېده، دا ځل هم خپله کورنۍ او بهرنۍ پالیسي د خپلې لومړۍ دورې د پالیسۍ په دوام او حتی په ډېر شدت سره پیل کړې ده. د هغه مهم اصول چې ټرمپ یې پر بنسټ خپلې پالیسۍ پلي کوي د "له هره څه مخکې امریکا" او "پخواني برم ته د امریکا ستنول" اصول دي. داسې ښکاري چې ټرمپ غواړي دا اهداف د امریکا د نړیوالتوب کمولو، له نړیوالو حقونو او رژیمونو څخه د لرې کېدو، د امریکا د نړیوالو مرستو د بندولو، د امریکا د متمرکز سیاسي-پوځي اتحادونو پرېښودل او د خپلو شریکانو او سیالانو سره د اقتصادي جګړو پیل کولو، سره ترلاسه کړي. خو پوښتنه دا راپورته کېږي چې آیا دا پالیسۍ به د امریکا نړیوال حیثیت ته زیان ونه رسوي؟ یا که چیرې دا پالیسۍ په هغه ډول دوام ومومي لکه څنګه چې ټرمپ یې غواړي، آیا امریکا به د یو زبرځواک په توګه له خپل اوسني مقام څخه ونه غورځېږي؟ په ټوله کې د پورته پوښتنو لپاره دوه ځوابونه فرض کېدای شي: لومړی، ټرمپ په ریښتیا سره غواړي د امریکا د کورني وضعیت د ښه کولو په هدف د مونرو دوکتورینو (انزوایي بهرنۍ سیاست) ته د بیرته راستنېدو سره د امریکا نړیوال مداخلې کمې کړي، کوم چې ممکن په نړیوال سیستم باندې لویه اغیزه ولري او دوهم، ټرمپ، د یو عملي سیاستوال په توګه، به د امریکا د پراختیا غوښتنې پالیسۍ په یو بل شکل او نویو طریقو سره تعقیب کړي.

### د مونرو دوکتورینو ته بیرته ستنېدل

د نولسمې پیړۍ په اوږدو کې د امریکا بهرنۍ پالیسي د مونرو دوکتورینو پر اساس جوړ و. دا دوکتورین په ۱۸۲۳ کال کې د متحده ایالاتو د ولسمشر جیمز مونرو لخوا د امریکا د بهرنۍ پالیسۍ د بنسټیز اصل او د اروپایي قدرتونو سره د هغه هېواد د تعامل لپاره د اساس په توګه اعلان شوه.[1] د دې نظریې پر بنسټ، د امریکا په براعظم کې د اروپایي هېوادونو مداخله د متحده ایالاتو د ملي امنیت لپاره ګواښ ګڼل کیده او که چیرې هغه هېواد په امریکایي براعظم کې له کوم ګواښ سره مخ شي، نو د هغه د شنډولو او له منځه وړلو مکلفیت یې پر خپله دی. په مقابل کې، د امریکا متحده ایالات په اروپا کې د هر ډول مداخلې یا د اروپایي قدرتونو په شخړو او لانجو کې له ښکیلتیا څخه لاس واخېست او د یو بې طرفه هېواد په توګه یې یوازې د ځارنې دریځ غوره کړ. د مونرو د دکترین تر شا اساسي منطق دا و چې اروپا په بحران، جګړې، شخړو او فساد کې ډوبه وه، او امریکا باید د اروپا په بې ګټې بحرانونو کې ځان ښکیل نه کړي. پرځای یې امریکا

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

باید په خپلو سرچینو تکیه کولو او پاملرنې سره د ځان جوړولو او پراختیا هڅه وکړي. که څه هم دا اصل په لومړي سر کې د اروپایانو لخوا ډېر جدي نه و نیول شوی، خو دا د امریکا لپاره کافي فرصت برابر کړ چې په اروپایي شخړو کې د ښکیلتیا څخه د ډډه کولو سره په کور دننه خپل ځواک ته وده ورکړي. کله چې متحده ایالاتو د ۱۸۹۳ کال په جګړه کې هسپانیې ته ماتې ورکړه، نو دا څرګنده شوه چې د متحده ایالاتو لپاره به نږدې یوه پیړۍ وخت پکار وي چې پر یو لوی ځواک بدل شي.[2] د شلمې پیړۍ په پیل سره په ځانګړې توګه د لومړۍ نړیوالې جګړې په جریان کې، د مونرو نظریه په موقتي ډول پرېښودل شوه او له دویمې نړیوالې جګړې وروسته، دا په رسمي ډول د ټرومن نظریې په اعلان سره لغوه شوه، ځکه چې د ټرومن نظریې اساس د متحده ایالاتو نړیواله مداخله او د شوروي اتحاد په وړاندې د سیاسي او نظامي اتحادونو رامنځته کول وو. د سړې جګړې په جریان کې، د ټرومن نظریې متحده ایالاتو ته دا ګټه ورسوله چې په اروپا او آسیا کې د خپلو متحدینو (لکه جاپان) سره یوځای د شوروي اتحاد په وړاندې بریالي شي. د شوروي اتحاد له ړنګېدو او د سړې جګړې له پای ته رسېدو وروسته، د نوي نړیوال نظم نظریه هم د نویو غوښتنو پر بنسټ د متحده ایالاتو نړیواله مداخله زیاته کړه.

که څه هم ټرمپ په څرګنده توګه په دې اړه روښانه درېځ نه دی نیولی چې آیا هغه غواړي د مونرو نظریه بیا راژوندۍ کړي، خو دا یقیني ده چې، هغه بهرنۍ پالیسي چې دی یې د جوړولو هڅه کوي، نښې یې د ولسمشر په توګه د هغه په لومړۍ دوره کې لیدل شوې وې او اوس تاکل شوې ده چې په ډېر ځواک سره ورته عملي جامه واغوندي او دا د مونرو نظریه د نوي بڼې یادونه کوي. په حقیقت کې، د غیر نړیوالتوب اساس چې ټرمپ غوره کړی دی ښیي چې هغه په بهرني سیاست کې د یو ډول د خپلو ګټو د ساتلو په موخه انزوا تعقیب کړي. که څه هم دا باور کول ممکن نه دي چې ټرمپ به په بشپړ ډول او د منلو وړ د انزوا کولو بهرنۍ پالیسي غوره کړي، ټرمپ هڅه کوي چې انزوا کول د "امریکا لومړی" اصل سره او په بهرني چاپېریال کې مداخله د "پخواني برم ته متحده ایالاتو ستنول" اصل سره یوځای کړي. د مونرو په څېر، ټرمپ هڅه کوي چې په امریکا لویه وچه کې د امریکا ځواک مطلق ثابت کړي، لکه د پاناما کانال بېرته نیول، کاناډا د امریکا سره یوځای کول او حتی ګرینلینډ ترلاسه کولو (پېرودلو) په څېر هیلې لرل. د ټرمپ د انزوا کولو یو بل اصول "اقتصادي خپلواکي" ده، په ځانګړې توګه د چین له انحصاره ځان خلاصول یادولی شو. د ټرمپ په فکر کې، د آزادې سوداګرۍ په منلو سره، امریکا نورو ته فرصت برابر کړ چې د امریکا لخوا چمتو شوي ظرفیتونو او فرصتونو په کارولو سره خپل موقف لوړ کړي. د ټرمپ په نظر، نړۍ او لیبرال اقتصاد د امریکا د ګټو د خوندي کولو پر ځای نورو ته د ودې او پرمختګ فرصتونه برابر کړي دي. د ټرمپ له نظره، د نړیوالو کنوانسیونونو اطاعت، د امریکا لپاره یو خنډ دی او امریکا باید له هغو تړونونو څخه ووځي چې د امریکا د خپلواک عملي فرصت محدودوي. د هغه په اند دا هم بې معنی ده چې متحده ایالات هر کال په میلیاردونو ډالر نورو هېوادونو ته په داسې ډول مرستې ورکوي چې د امریکا د ځواک د پراختیا لپاره هیڅ ګټه نلري. له همدې امله د ټرمپ

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

په نظر، اړتیا ده چې پخواني برم ته د متحده ایالاتو ستنول او پر ځان متمرکز چلند غوره کړي او دا تر یوې اندازې روښانه ده چې هغه د اوسنیو نړیوالو شرایطو او غوښتنو په رڼا کې د مونرو نظریه بیا راژوندۍ کولو هڅه کوي.

## د امریکا اوسنی دریځ او وسایل یې

که څه هم د مونرو دوکتورینو وکولای شول چې امریکا په یوه لوی ځواک بدله کړي، لیکن شواهد ښیي چې د امریکا بدلون په یوه حقیقي ځواک، د دوهمې نړیوالې جګړې وروسته او د نړیوالتوب او څو اړخیزو چلندونو په غوره کولو سره ترلاسه شو. امریکا د دوهمې نړیوالې جګړې وروسته، چې دوی پخپله پکې شامل شوي وو او اصلي ګټونکي ګڼل کېدل، امریکایي سیاستوالو د نړیوالتوب لپاره ځای او شرایط رامنځته کړل. په نوي فضا کې، ټول مخکښ اروپايي قدرتونه په ځمکه وغورځول شول او شوروي اتحاد، د خپلې لیبرال ضد ایډیالوژۍ سره، هڅه وکړه چې اروپا او ټوله نړۍ د کمونیزم تر سیوري لاندې راولي. په دې شرایطو کې، امریکا ځان د لیبرالیزم او پانګوالۍ وارث وګڼلو او د هغه لوړ پوځي او اقتصادي ځواک په پام کې نیولو سره چې په تېرو څو لسیزو کې یې ترلاسه کړی و، د اروپایانو او هر هغه هېواد سره د مرستې لپاره بېړه وکړه چې د مارشال پلان له لارې یې لیبرالیزم او پانګوالۍ منلې وه. متحده ایالاتو د بریټن ووډز په کنفرانس کې یو نوی ډالر محور اقتصادي نظم هم رامنځته کړ او وروسته یې د دې نظم د عملي کولو او ټینګولو لپاره اجرایوي اداري رامنځته کړې. له دې وراخوا، متحده ایالاتو په اروپا کې د خپل پوځي ځواک د پیاوړتیا لپاره د ناټو په څیر پوځي سازمانونه رامنځته کړل. یوه بله ځانګه چې د امریکا متحده ایالاتو سره یې د کمزورو هېوادونو لره په خپل مدار کې راوستلو کې مرسته وکړه د نړیوالو مرستو چمتو کول وو، چې په ۱۹٦۱ کال کې د امریکا د هغه وخت ولسمشر جان ایف کینیډي لخوا د USAID په تاسیس سره په رسمي ډول په دغو هېوادونو کې د مرستې په پلمه د امریکا نفوذ پراخ کړ. سربېره پردې که څه هم نړیوال حقوقي بنسټونه له ګڼو سرچینو څخه تمویل کېده، بیا یې هم په نړیوال چاپیریال کې د بل هر هېواد په پرتله د امریکا د دریځ په ټینګولو کې ډېره مرسته ورسره وکړه. په ځانګړې توګه، د ملګرو ملتونو تاسیس او په متحده ایالاتو کې د هغې د مرکزي دفتر تاسیس او دا حقیقت چې متحده ایالات د هغې د بودیجې د پوره کولو لپاره ترټولو لوی تمویلوونکی دی، په نړیواله کچه  یې د امریکا د نفوذ پراخولو کې مرسته وکړه. که څه هم شوروي اتحاد د یو دښمن زبرځواک په توګه د امریکا په مقابل کې ودرېد او د امریکا ځینې اهداف یې کمزوري کړل، خو متحده ایالات وتوانېدل چې شوروي اتحاد منزوي او فلج کړي، په پای کې یې د پورته ذکر شویو ګڼ شمېر تګلارو په کارولو سره ویجاړ کړي.

## پر نړیوال نظام د ټرمپ د پالیسیو او پرېکړو اغېزې

لکه څنګه چې وویل شول، د مونرو د نظریې پربنبودو او د نړیوالتوب چلند غوره کولو وروسته، متحده ایالات وتوانید چې د پورته ذکر شویو وسیلو په کارولو سره خپل احتمالي څواک عملي کړي او د شوروي اتحاد له منځه وړلو وروسته، بې له شکه د نړیوال نظام زبرځواک شي. د متحده ایالاتو تېرو جمهور رئیسانو په نړیوال نظام کې د متحده ایالاتو د موقف ساتلو په موخه له خپلو متحدینو سره مرستې او همکارۍ کړې دي چې له امله یې د امریکا د نړیوال دریځ په پیاوړتیا کې مرسته کړې، دا څرګنده ده چې ټرمپ غواړي د امریکا د نړیوالتوب کمولو سره حتی د خپلو اصلي متحدینو سره په تعامل کې د انزوا او یو اړخیزتوب بڼه غوره کړي. که چیرې ټرمپ انزوایي بهرني سیاست ته چې د دې تحلیل یوه فرضیه ده لاړ شي، نو په نړیوال سیستم به یې څه پایلې او اغیزې وي؟ د دې پوښتنې په ځواب کې، موږ کولی شو ووایو چې په عمومي توګه دا منفي او مثبت اغیزې لري. لومړۍ اغیزه چې د ټرمپ یو اړخیز پالنه یې په نړیوال نظام باندې لرلی شي د موجوده نړیوال قانون کمزوري کول، د رژیمونو او قانوني حقوقي بنسټونو سقوط به وي. د ولسمشر په توګه د خپلې لومړۍ دورې راهېسې، ټرمپ له څو نړیوالو تړونونو لکه د پاریس اقلیمی تړون، د عمل ګډ جامع پلان (JCPOA)، د ټرانس-پیسفیک ملګرتیا (TPP)، یونیسکو او د ملګرو ملتونو د بشري حقونو شورا څخه وتلی دی. ټرمپ لخوا د دې تړونونو او سازمانونو څخه د متحده ایالاتو په وتلو سره، په نړیوالو قوانینو کې یو ډول ګډوډي او د بې اعتباري رامنځته کوي او نړۍ د انارشیزم په لور بیایې. څکه چې که یو له لویو هېوادونو څخه، چې پخپله د ډیري موجوده نړیوالو قوانینو بنسټ ایښودونکی دی، اطاعت ونه کړي، نو څنګه به نور ورته ژمن پاتې شي؟ د نړیوال سیستم په جوړښت باندې یو بل اغیز چې منفي او مثبت دواړه ارزول کیدای شي، هغه دا دی که ټرمپ وغواړي یا یې وکولی شول چې امریکا له یو نړیوال قدرت څخه په یو اړخیز هېواد بدل کړي چې له نړیوالو مسلو څخه جلا وي، نو موجوده نظم به یقیناً د سقوط له خطر سره مخ وي. که څه هم د موجوده نړیوال جوړښت او نظم د ماهیت په اړه قطعي نظر ورکول ممکن نه دي، خو څینې پوهان په دې باور دي چې اوسنی یو قطبي نظام چې مشري یې امریکا کوي په څو قطبي نظام بدلېدونکی دی.[3] په طبیعي ډول، د امریکا د نړیوال رول له کمېدو سره نړۍ د موجوده نظم څخه د وتلو په لور نږدې کیږي او د موجوده نظم د سقوط سرعت ګړندی کیږي. خو له بلې خوا، که په نړیوال نظام کې د امریکا رول کم شي، نو د یو ډیر منلو وړ، او هر اړخیز نظم رامنځته کولو فرصت به وي، په ځانګړي توګه څو قطبي نظم، کوم چې د نړیوالو اړیکو پوهانو لخوا ترټولو مناسب نظم ګڼل کیږي، په دې حالت کې اوسني وضعیت د ښه مطلوب حالت ته د بدلولو هیلې ډیریږي.

### د موخې پرځای کړنلاره بدلول

د پخوانۍ فرضیې برعکس، دا هم په کلکه فرض کیدای شي چې ټرمپ نه یوازې د منرو انزاویې پالیسي بیا تعقیبول غواړي، بلکې د خپل شخصیتي مهارتونو پر بنسټ، هغه غواړي چې د خپلې ژبې او تفسیر سره په نړیواله کچه د امریکا ګټې خوندي کړي. که په روښانه توګه ووایو، ټرمپ د امریکا د اهدافو په اړه خپل

چلند او تګلاره بدله کړې ده، نه د امریکا ملي اهداف او نه هم نړیوال رولونه. که چیرې د یوې قضیې په اساس وڅېړل شي، نو موضوع به روښانه شي. د نړیوالو تړونونو او سازمانونو څخه د ټرمپ د وتلو په اړه، دا ویل کیدی شي چې د خپل یو اړخیزتوب د عملیاتي ظرفیت د اعظمي کولو لپاره، ټرمپ هغه تړونونه پرېښودل چې هېوادونه یې د انفرادي ګټو لپاره استعمالوي. په حقیقت کې، ټرمپ غواړي د امریکا د ګولان لوړې په نړیواله کچه پراخه کړي او د خپل هیواد ګټې په آزاده توګه خوندي کړي. د سیاسي او پوځي ترتیباتو څخه د وتلو په ګواښ سره، ټرمپ غواړي په خپلو متحدینو فشار زیات کړي چې د لګښتونو درونډ بار پر دوی واچوي او ځان له مسایلو څخه وباسي. لکه څنګه چې په تېرو وختونو کې هم ټرمپ خپل د ناټو متحدین مجبوره کړي چې پوځي بودیجه زیاته کړي او دوی یې اړ کړي چې ډېرې امریکایي وسلې واخلي. د تعرفو د زیاتوالي په برخه کې، ټرمپ غواړي چې دا د مطرح هېوادونو څخه د نورو مسلو په اړه د ډېرو امتیازاتو ترلاسه کولو لپاره وکاروي. د مثال په توګه، هغه په کاناډا او مکسیکو باندې د ٪۲۵ تعرفو د زیاتولو ګواښ وکړ او دوي یې دې ته اړ کړل چې د سرحدي امنیت په برخه کې ډېره پانګونه وکړي.[4] په ځانګړې توګه چین باندې د تعرفو د زیاتوالي په اړه، دا څرګنده شوه چې ټرمپ غواړي دوه موخې ترلاسه کړي، یو دا چې د چین اقتصادي وده ورو شي او بل دا چې هند، د چین بدیل شي ترڅو چین ته د صادراتو د کمښت له امله رامنځته شوي زیانونه جبران کړي. لکه څنګه چې د نریندرا مودي سره په تړون کې موافقه شوې، د متحده ایالاتو او هند ترمنځ دوه اړخیزه سوداګري به پنځه سوه میلیارد ډالرو ته لوړه شي.[5] د امریکا د نړیوالو مرستو بندول، چې پر افغانستان یې هم اغېز کړی، د ټرمپ په کاري ساحه کې به یو ډېر خطرناک هدف وي. د دریو میاشتو لپاره د مرستو په ځنډولو سره، ټرمپ به ټول مرستې ترلاسه کوونکي هېوادونه د خبرو اترو میز ته راولي او د نورو امتیازاتو غوښتنه به وکړي. د مثال په توګه، د افغانستان په قضیه کې، قوي احتمال شتون لري چې ټرمپ به له اسلامي امارت څخه وغواړي چې د دوامداره مرستو په بدل کې د امریکا تر خارنې لاندې له چین، روسیې یا ایران سره خپلې اړیکې تنظیم کړي او حتی دا هم ممکنه ده چې هغه به د مرستو په بدل کې له اسلامي امارت څخه په افغانستان کې د یوې اډې غوښتنه وکړي، ځکه چې هغه په وار وار د بګرام هوایي ډګر د اهمیت په اړه خبرې کړې دي.

## پایله

امریکا متحده ایالاتو وکولای شول چې د مونرو دوکتورینو په نوم د انزوا کولو ستراتیژۍ په غوره کولو سره ځان له نړیوالو شخړو څخه لرې کړي. که څه هم ټرمپ په ښکاره ډول د انزویي بهرنۍ پالیسي غوره کولو یادونه نه ده کړې، خو د هغه د کړنو او پالیسیو د محتوا له نظره، داسې ښکاري چې هغه ممکن د مونرو په څیر د انزوا کولو پالیسي غوره کړې وي. ځینې شواهد د دې فرضیې ملاتړ کوي، دوهمه فرضیه، چې ډېره عملي برېښي هغه دا ده چې، امریکا هغه وخت یو زبرځواک شو کله چې یې نړیوالتوب چلند غوره کړ. متحده ایالات وتوانېدل چې د نړیوالو قانوني بنسټونو، سیاسي، اقتصادي او نظامي اتحادونو او ایتلافونو په کارولو



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

سره، د نورو هېوادونو سره د آزادي سوداګرۍ د زیاتوالي او نورو هېوادونو ته د مرستې په توګه د پیسو ویشلو له لارې د یو زبرځواک په توګه خپل دریځ پیاوړی کړي، نو که امریکا لدې بنسټونو او تګلارو تېره شي، نو دوی به کوم حالات غوره کړي؟ سربېره پردې، ټرمپ، چې ګومان يې کاوه چې په نورو هېوادونو باندې د درنو تعرفو په لګولو سره، هغه کولی شي د امریکا د کورني اقتصادي سوکالۍ په لور حرکت نور هم پیاوړی کړي، بلکې دا حقیقت يې له پامه غورځولی دی چې نننۍ نړۍ، چې دومره لویه اقتصادي وده یې تجربه کړې، د آزادې سوداګرۍ پایله ده، چې یو له اصلي بنسټ اېښودونکو څخه یې پخپله امریکا ده. له همدې امله، دا سمه نه ده چې فرض کړو چې ټرمپ له دې مسلې خبر نه دی. له همدې امله، دا نتیجه اخیستل کیدای شي چې ټرمپ، د انزوا او نړیوالتوب د ګډ چلند په غوره کولو سره او د نړیوال سیستم اړتیاوې په پام کې نیولو سره، د امریکاېې ګټو د لا زیات او یو اړخیزه توګه، د خوندي کولو په لټه کې دی. دا پدې مانا ده چې ټرمپ به په دې غور وکړي چې ایا انزوا کول ښه دي یا هغه به د مسلو پراساس د مداخلې پالیسي غوره کړي. د هغه د اقتصادي شالید په پام کې نیولو سره، هغه د نورو امریکایي مشرانو په پرتله ډېر حریص دی. هغه د نړۍ لپاره داسې خوبونه لیدلي دي چې د بل هر امریکایي مشر په پرتله خورا خطرناک دي او که هغه ربښتیا شي، نو نړۍ به یو نوي او ډېر امریکايي پړاو ته ننوځي. په عمومي توګه، ټرمپ د امریکا د لویې نړۍ اطاعت غوښتلو لپاره د فشار راوستلو لپاره نوي میتودونه کاروي.

## وړاندیزونه

څرنګه چې ټرمپ غواړي د فشار او ګواښونو له لارې خپلې ګټې ترلاسه کړي، نو افغانستان باید لاندې ټکي په پام کې ونیسي:

1. اسلامي امارت باید د ټرمپ د مذاکراتو ماډل وپیژني او په اسانۍ سره د هغه غوښتنو ته تسلیم نشي.
2. دا څرګنده ده چې ټرمپ به په پیل کې د ګواښونو او ډارولو پالیسي تعقیب کړي؛ له همدې امله، اسلامي امارت باید له دې تګلارې څخه خبر وي.
3. اسلامي امارت باید په کورنیو سرچینو تکیه کولو او د سیمې له هېوادونو سره د تبادلې کچه لوړه کړي. هڅه وشي چې د بهرنیو مرستو په اړه د افغانستان تکیه کمه کړي، حتی که هغه د غیردولتي ادارو(موسسو) له لارې هم ورکول کیږي.

[1]. The Monroe Doctrine, 1823. Available at: https://www.gilderlehrman.org/history-resources/spotlight-primary-source/monroe-doctrine-1823?gad_source=1&gclid=CjwKCAiA2cu9BhBhEiwAft6IxP3D2pWQv7yGv1PfWxdeFhwO0sC0oiIFhbUOLKui5lB7fKChN9bXxRoCjuQQAvD_BwE

[2]. Spanish American War. Available at: https://www.history.com/topics/early-20th-century-us/spanish-american-war

[3]. باری بوزان و دیگران. مناطق و قدرت‌ها، پژوهشکده مطالعات راهبردی: تهران، ۱۳۸۸، ص ۴۲.

[4]. کاخ سفید: کانادا، مکزیک و چین از روز شنبه با تعرفه روبرو خواهند شد. بی‌بی‌سی فارسی. تاریخ نشر ۱۴۰۳/۱۱/۱۲ قابل دسترسی: https://www.bbc.com/persian/articles/c8xqdkn0jezo

[5]. ترامپ وعده گسترش روابط تجاری را به نخست‌وزیر هند داد. سایت دویچه‌وله، تاریخ نشر ۱۴۰۳/۱۱/۲۶ قابل دسترسی
https://www.dw.com/fa-ir/%D8%AA%D8%B1%D8%A7%D9%85%D9%BE-%D9%88%D8%B9%D8%AF%D9%87-%DA%AF%D8%B3%D8%AA%D8%B1%D8%B4-%D8%B1%D9%88%D8%A7%D8%A8%D8%B7-%D8%AA%D8%AC%D8%A7%D8%B1%DB%8C-%D8%B1%D8%A7-%D8%A8%D9%87-%D9%86%D8%AE%D8%B3%D8%AA%D9%88%D8%B2%DB%8C%D8%B1-%D9%87%D9%86%D8%AF-%D8%AF%D8%A7%D8%AF/a-71607360

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)


د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز نادولتي، غير انتفاعي او خپلواک ارګان دی، چې په ۱۳۸۸ لمريز کال کې په کابل کې جوړ شوی. دغه مرکز د خپلو بې‌پرې او کره څېړنو له لارې، په افغانستان او سيمه کې د پاليسيو د ارزونې او بډاينې لپاره فعاليت کوي.

**اړيکه:**

ايميل: info@csrsaf.org

وب سايت: www.csrsaf.org

شمېره: +93780618000

+93780618000